ملايکې هغه کور ته نه ننوځي چې سپی يا انځور پکې وي

له ابو طلحة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «ملايکې هغه کور ته نه ننوځي چې سپی يا انځور پکې وي».
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هغه کور ته د رحمت ملايکې نه ننوځي چې سپی او د ساه لرونکو انځور پکې وي؛ ځکه چې د ساه لرونکو انځورول ګناه او ناوړه عمل دی، او پدې کې د الله تعالی د مخلوقاتو سره ورته والی او د شرک يوه وسيله ده، او ځينې يې د هغه څه انځور دی چې له الله تعالی پرته يې عبادت کيږي، او له هغه کور څخه يې منع فرمايل چې سپی پکې وي، ځکه چې (سپی) ډېر نجاستونه خوري، او ځينو ته يې شيطان ويل شوی؛ او ملايکې د شيطانانو ضد دي. او ځکه چې سپی بد بوی لري؛ او ملايکې بد بوی نه خوښوي، او بل دا چې له ساتلو يې منع راغلې؛ نو په ساتلو سره د رحمت د ملايکو له رانښتلو، په کور کې يې د ملايکو لخوا لمونځ کولو، د ده لپاره د بخښنې غوښتلو، د کور برکتي کولو او د شيطانانو د ضررونو له دفع کولو څخه محروم شو.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8950